الدرس الثالث

النبي محمد ﷺ

دريم درس

د محمد ﷺ پيغبرئ

الله تعالى محمد ﷺ آخرنئ نبی رالیږی دی ، رسالت ئي آخرنئ رسالت دی ، دی پاره چی د الله تعالی بندګان يو دالله تعالی بندګی ته راوبلئ ، او رد وکړی په هر هغه عمل چی د الله تعالی د حکم خلاف وی د بوتانو د بندګی وغیره نه ، الله تعالی محمد ﷺ څلویښتو کالو په عمر کښې مکه مکرمه کښې رالیږلئ وو، د نبوت نه مخکښې په خپل قوم کښې بلکه په ټول انسانيت کښې د خائيسته اخلاقو مالک وو ، خلقو ورته د آمين او صادق لقب ورکړی وو ، لیکل او لوستل ئی نه شو کولئ ددی باوجود الله تعالی وربان‌دی د قران عظیم الشان وحی نازله کړه ، او ټول انسانيت ته ئي د قران د مقابلے دعوت ورکړو ، د اسلامی دین بنيادی أوصول: اول: په الله پاک باندی ایمان لرل : پدی خبره ایمان راوړل چی هغه حقیقی معبود دی ، د عبادت حقدار دی نه بل هیڅ څوک ، ځکه چی هغه ټول بندګان پیداء کړیدی او ورسره مهربانی کوی ، رزق ورکوی، او د ټولو په ښکاره او پټو حالاتو باندی خبر دی، تابعدارو ته په غوره بدله او نافرمانو ته په سزا ورکولو باندی قدرت لری ددي حقيقت دادي چی د عبادتونو ټول اقسام د الله پاک دپاره یواځي کول د الله پاک په خائسته نومونو او د لوئی په صفتونو باندی ایمان راوړلے شی هغه چی قرآن کریم ذکرکړی دی او یا د رسول امین ﷺ نه په صحیح احادیثو کښې نقل وی دوهم : د الله پاک په ملائکو باندی ایمان لرل دي : مونږ ایمان لرو پدی خبره چی الله پاک دپاره ملائک شته ، الله پاک پیدا کړی دی ، او فطرت کښې ئی ورله اطاعت اچولی دی ، ډیر قسمونه لری ، بعض ملائکو د الله پاک عرش اوچت کړیدی ، بعض د جنت او جهنم څوکیداران دی ، بعض ملائک د بندګانو د اعمالو حفاظت کوی دریم : دالله په آسمانی کتابونو ایمان لرل: چی الله پاک په خپلورسولانواوپیغمبرانوباندی کتابونه نازل کړیدی چی بندګانو ته حق واضحه شی ، او حق طرفته ورله بلنه ورکړی ، دکومو کتابونو نومونه چی ذکر شویدی هغه د نومونو سره وومنلی شی، لکه زبور، تورات، انجیل ، او قرآن کریم ، قرآن کریم آخری کتاب دی ، د نورو کتابونو محافظ او تصدیق کونکی دی، ددی تابعداری کول ،څلورم : د الله په رسولانو ایمان : زمونږه ایمان دی چی الله پاک خپلو بندګانو ته رسولان رالیږلی دی ، زیری ورکونکی، یره ورکونکی او دحق دعوت ورکونکی، هغه پیغمبرانو چی دهغوی نومونه الله پاک او دهغه رسول ﷺبیان کړی وی لکه نوح، هود، صالح ، ابراهیم علیهم وعلی نبینا أفضل الصلوة وأزکی التسلیم. پنځم : په آخرت باندی ایمان : آخرت باندی ایمان کښې هر هغه څه داخل دی چی الله پاک او رسول ﷺ ئے خبر ورکړی وی چی د مرګ نه پس به راځی لکه د قبر فتنه او عذاب ، او نعمتونه ، اوهغه چه د قیامت په ورځ باندی به کوم حالات وی او جنت او جهنم ،شپږم : په قضاءاو تقدير باندی ایمان راوړل: ایمان راوړل چی یقینا الله تعالی په هر هغه څه باندی چی شوی دی یا به کیږی عالم دے او هغه څه به کیږی چه الله تعالی ئي أوغواړی او هغه څه نه کیږی چی الله تعالی ئی نه غواړی هر څیز چی پیداء کیږی د الله تعالی په اراده او علم باندی وی.